# په په فرانسه کې **ټول ماشومان** د هرډول تاوتریخوالي او ناوړه استفادې په وړاندې یې خوندې توب او محافظت کیږي.



**که تاسوځان په خطرکې احساس کوئ یا ځینې شیان په تاسو د زور له لارې ترسره کولو کیږي** چې تاسو یې نه غواړئ ترسره کړئ، نو پوه شئ چې په فرانسه کې تاسو خوندي توب لرى او ستاسو محافظت کیږي.



**که تاسو د 18 کلنو څخه کم عمر لرئ** او تاسو د مور او پلار پرته په فرانسه کې یاست، تاسو حق لرئ چې د رسیدو سره سم د دولت لخوا استوګنځای او ساتنه ترلاسه کړئ. که تاسو خپله کورنۍ له لاسه ورکړې وي، سور صلیب کولی شي تاسو سره د دوی په موندلو او بیا یوځای کولو کې مرسته وکړي.




**پولیس** ستاسو د ساتنې لپاره شتون لري. پولیسو ته خپل ځان معرفي کړئ یا **17** شمیرې ته (فرانسوي ژبه) زنګ ووهئ. تاسو کولی شئ ماشومان په خطرکې (**Enfance en danger**) مرکز ته په **119** شمیرې زنګ ووهئ (وړیا تلیفون، په ورځ کې 24 ساعته، په فرانسوي یا انګلیسي کې).



**خپل د هویت اسناد له ځانه سره وساتئ،** خپل اسناد بایدهیچا ته ورنکړئ او دخپلو اسنادو عکسونه واخلئ چې کاپي یې له ځان سره ولرئ. خپل اسناد په انلاین بڼه مه شریکوئ.



**یوازې د هغو مسلکي کسانو څخه مرسته وغواړئ چې ځانګړې نښې لري،** لکه ځانګړی یونفارم یا کارت.
ناوړه کسان کولی شي تاسو ته د (هستوګنې، ټرانسپورټ، کار ...) اړوند د مرستې وړاندیز وکړي، د ټولنیزو شبکو په شمول.
د هغوی وړاندیز مه منئ.

GOUVERNEMENT Liberté Égalité Fraternité · OFII Office français de l'immigration et de l'intégration · UNHCR L'Agence des Nations Unies pour les réfugiés · OIM ONU Migration · unicef France · Croix-Rouge française · Contre la traite des êtres humains · France Terre d'Asile · forumréfugiés · Cosi · Secours Catholique Caritas France

Affiches mineurs-Pashto.indd 1 22/03/2023 12:25